دافغانستان اسلامــي جمهوری دولت
د ټـــاکنــوخپلـــــواک کمیسیـــــون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مســــــــتقل انتخابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| **شمېره:** | ۱۴- ۱۳۹۳ |
| **موضوع:** | 1. د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنو د ترسره کولو د نېټې اعلان؛<br>2. د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنو مهالویش؛ او<br>3. د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنو نوماندانو د مالي لګښتونو حدود او د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنو د ټاکنیزو مبارزو د مالي چارو د ریپورټ ورکولو بڼه. |
| **مرجع:** | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء |
| **د غونډې نېټه او ځای:** | د ۱۳۹۳ کال د غويي ۲۵مه ( د ۲۰۱۴ کال د مي۱۵ مه)د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| **حاضر غړي:** | ښاغلیډاکټر احمد یوسف نورستانی، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي،آغلېګلالۍ اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیوانی،ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلي لیلا احراري و آغلي شریفه زرمتۍ وردک. |

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون** د دغه کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۱۳ مادې، او د ټاکنو قانون د ۲۰ او ۴۹ مادو د مندرجو حکمونو په پام کې نیولو سره پرېکړه وکړه چې:

1. دې ته په پام سره چې د ولسمشرۍ ټاکنو په لومړي دور کې هیڅ یو نوماند هم له پنځوس سلنې څخه زیاتې رأیې ترلاسه نه کړې، نو له دې کبله د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنې د روان کال د غبرګولي په ۲۴ مه نېټه تر سره کېږي.

2. له دغه پرېکړه لیک سره ضمیمه د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنو مهالویش تأیید او تصویب دی. .

3. د ولسمشرۍ د دویم دور ټاکنو نوماندان کولی شي چې د ټاکنو قانون د ۴۹ مې مادې مطابق د خپلو ټاکنیزو مبارزو د لګښتونو حدود چمتو او د خپلو ټاکنیزو مبارزو د مالي چارو ریپورټ دې د چوپتیا په ۴۸ ساعته پراو کې دغه کمیسیون ته وړاندې کړي.

| له پرېکړې سره موافق | د غړیو نومونه | له پرېکړې سره مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلیډاکټر احمد یوسف | |

| | | |
|---|---|---|
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلې شريفه زرمتۍ وردک | |